# له انا سره په رخصتۍ کې

Violet Otieno
Catherine Groenewald
Zahidullah Abid
4
پښتو ps

. زمري او وږمې له خپل پلار سره یو ځای په ښار کې ژوند کوه،
دوی رخصتي ته ډیر لیواله و. نه یوازې دا چې ښوونځي يي
رخصت کیږي، بلکه دې ته خوښ و چې د خپلې نیا لیدو ته
ورځي. د دوی نیا یوه لوی سمندر ته نږدې د کب نیونې په کلي
کې ژوند کوه.

زمرى او ورېمه ډېره خوشحاله وو، ځکه چې دا د دوی لپاره مناسب وخت چې خپله نیا وګوري. د تګ څخه یوه شپه مخکې، دوی خپل بکسونه ډک کړل او د نیا کلي ته د اوږد سفر لپاره چمتو شول.
دوی ته خوب نه ورتلو، او ټوله شپه یې د رخصتۍ په اړه خبرې کولې.

سهار وخته د خپل پلار په موټر کې کلي ته روان شول، په لاره کې يې د دنګو غرونو، وحشي ژوو او د چای د کښتونو ننداره کوله. کله کله به يې له ځان سره سندرې هم ويلې.

څه موده لا تېره نه وه چې ماشومان ستړي شول او ویده شول.

کله چې دوی کلي ته ورسېدل، نو پلار یې زمری او وږمه له خوبه راویښ کړل. دوی خپله نیا، زرغونه انا، په داسې حالت کې ولیدله چې د یوې ونې لاندې په یوې غالۍ ناسته وه. هغه یوه پیاوړې او ښکلې ښځه وه.

انا دوی ته ښه راغلاست ووایه، نڅا یې وکړه او د خوښۍ سندرې یې وویلې. لمسیان یې ډېر لیواله و چې خپلې انا ته له ښاره راوړل شوې ډالۍ ورکړي، زمري په لوړ غږ وویل، "لومړی زه ډالۍ ورکوم،" وږمې چغه کړه،" نه زه یې ورکوم."

وروسته له هغې چې نیا یې ډالۍ خلاصې کړې، زرغونه انا خپلو لمسیانو ته د دوی د فرهنګ مطابق د برکت دعا وکړه.

زمری او وږمه له کور څخه دباندې ولاړل. دوی په پتنګانو او مرغانو پسې منډې وهلې.

دوی به ونې ته پورته کېدل او د لوی ډنډ (جهیل) اوبه یو بل باندې اچولې.

کله چې تیاره شوه، نو دوی د ډوډۍ لپاره کور ته راغلل. ډوډۍ خوړل یې لا پای ته نه و رسولي، چې ویده شول!

بله ورځ، د دوی پلار بیرته ښار ته روان شو، او دوی یې د زرغونه انا سره پرېښودل.

زمري او وږمې به له خپلې انا سره د کور په کارونو کې مرسته کوله، اوبه به يې ورته راوړې، د سون توکي به يې راوړل، د چرګانو هګۍ يې را ټولولې او له بڼ څخه به يې شنه سابه هم ورته راوړه.

زرغونه انا خېلو لمسيانو ته وروښودل چې څنګه کولی شي نرم اوګالي( د دوی یو ډول خواږه ده) جوړ کړي، او د سټیو( د دوی یو ډول خواږه ده) سره يې وخوري. هغې دوی ته وښودله چې څنګه د کوکونټ وريجې تيارې، او بيا هغه له وريتو کبانو سره وخوري.

يو سهار زمري او ورمې د خپلې نيا غواګانې څرولو ته بوتلې، ګوري چې د ګاونډي پټي ته واوښتې، ګاونډی بې په غوصه شو او په تنده لهجه بې زمري ته وويل، "زما ټول حاصلات دې پرې وخوړل، هله ژر شه غواګانې دې منع کړه." زمري همداسې وکړل، او تل به په دې فکر کې و چې غواګانې د ګاونډي پټي ته لاړې نه شي.

. بله ورځ زرغونې انا سره لمسیان ښار ته ولاړل، هغې هلته د خوراکي توکو دوکان درلود. د زمري دا خوښېده چې پيرودونکو ته د خوراکي توکو بيې ووايي او پيرودونکو به هم د اړتيا وړ مواد ترې اخيستل.

د ورځې په پای کې دوی یو ځای چای وڅښلو، او له انا سره یې د هغو پیسو په شمیرلو کې مرسته وکړه، کومې چې یې د ورځې په اوږدو کې ګټلې وې.

خو د دوی رخصتۍ ډېرې ژر پای ته ورسېدې او ماشومان باید بېرته ښار ته ولاړ شي. زرغونه انا زمري ته یوه خولۍ او ورمېږ ته یې یو جاکټ ورکړ، او د دوی د سفر لپاره یې ځیني خواړه هم په کڅوړه کې واچول.

کله چې پلار یې د دوی بېرته وړلو لپاره له ښاره راغئ. دوی نه غوښتل چې ښار ته ولاړ شي. ماشومانو له زرغونې انا څخه وغوښتل چې له دوی سره ښار ته ولاړه شي. نیا یې ورته وخندل او ورته ویې وویل: "زما عمر د ښار نه دی، زه به تاسو ته په تمه یم چې بیا کله تاسو زما کلي ته راځئ."

زمري او ورېمې دواړو يې نيا ته ټينګه غېږه ورکړه او مخه ښه يې ورسره وکړه.

کله چې زمری او وږمه بیرته ښوونځي ته ولاړل، دوی خپلو ملګرو ته د کلي د ژوند په اړه وویل. ځینو کوچنیانو احساس کوه چې په ښار کې ژوند ښه دی. نورو ویل چې د کلي ژوند ښه دی. خو دوی ټولو وویل چې د زمري او وږمې ډېره ښه انا ده!

# Global Storybooks

globalstorybooks.net

## له انا سره په رخصتی کې


Violet Otieno
Catherine Groenewald
Zahidullah Abid



CC BY